M T W T F S　　　　DATE:

عمر فاروق

س- پښتونولي څه ته وائي: د پښتونولۍ ضروري اجزاء:

ج- پېژندنه:

پښتونولي هغه قاعده دهٔ چې په منځلني وخت کښې د پښتنو لخوا جوړه شوې ده ـ او یا په بل عبارت یې چې وایو پښتونولي هغه دود او دستوروته دي د کوم لاندې چې پښتانهٔ خپل ژوند کوي ـ د پښتونولۍ اجزاء یا ضروري صفتونه په دري غټو برخو کښې تقسیمیږي، چې پلښې خوي خصلت، دود دستور او لارې چارې شامل دي ـ

۱- د پښتونولۍ پېژندنه:

پښتونولۍ د داسې اصولو، روایاتو او رسمونو مجموعه دهٔ د کوم لاندې چې د پښتنو تمام د ژوند معاملات چلیږي ـ لنډه دا چې پښتونولي د پښتنو تمام آئین و قانون دي او هغه ټول اصول پکښې شامل دي کوم چې پښتنو د ځانونه خپل کړي دي او د ژوند معاملات پرې کوي ـ

۲- په پښتونولۍ باندې اوږدې خبرې:

څرنګه چې د دنیا هر قوم د څه اصولو د لاندې خپل ژوند تېروي هم د هغه شان د پښتنو د ژوند تېرولو هم یو طریقه



Scanned with CamScanner

M T W T F S DATE:

او آئین دے۔ او دې طریقې او آئین ته پښتونولي وائي.

په آسانو ټکو کښې د پښتونولۍ مطلب دا دی، چې د پیدائش نه واخله تر مرګه پورې چې د پښتنو کوم عادتونه، روایاتونه، رسمونه و رواجونه او د ژوند تیرولو طریقې دي، دا ټول د پښتونولۍ په دائره کښې راځي. او دې ټولو ته پښتونولي وائي.

## ۳- د پښتونولۍ ضروري اجزاء او اصول:

هسې خو د پښتونولۍ بې شماره اجزاء او اصولونه دي، خو د آسانتیا د پاره زه د پښتونولۍ اجزاء په دریو غټو برخو کښې تقسیموم او هغه برخې دا دي۔

1- خوي او خصلت
2- دود دستور
3. لارې چارې

اوس به دې یو یو برخه باندې اوږدې خبرې لیکلې شوې دي۔

## 1. خوي خصلت:

خوي خصلت د پښتونولۍ ورومبۍ ضروري برخه ده، د خوي خصلت نه مراد د پښتون مزاج او صفتونه دي۔ په دې کښې هونږ سره شامل دي پت او عزت، ښېګړه او نیکي، توره او میړانه، لوظ، ننګ او غیرت، رښتیا ویل، زړه ورتیا، انصاف،

Babar Paper Product

Scanned with CamScanner

سخاوت، شرم او حیاء امانت او صلاح مشوره دي نه
علاوه نور هم ښې خصلتونه دي.

## ۱- پت او عزت:

د پت نه مراد په مونږ باندې چې د نورو خلقو د طرف نه کوم حقوق دي. هغه که د ورور دي که د خور دي که د مور پلار، ګاونډي، خپلوان یا که د هر چا دي هغې ته وائي پت. دې وجې نه پت او عزت د پښتنو په نظر کښې ډیر اهمیت لري. اسلام هم په پت او عزت ډیر زور ورکړی دی. نو دې نه اندازه لګي چې پت او عزت د پښتنو لوی ښه خصلت دی. خوشحال خان بابا د دې په حقله وائي:

سر دې دروځي مال دې دروځي پت دې نه ځي
د سړي د چارې کل خوبي په پت ده

مطلب سر دې هم لاړشي، مال دې هم لاړشي خو پت او عزت دې نه ځي ځکه پت او عزت د سړي ټولو نه غټه خوبي ده.

## ۲- ښېګړه او نېکي:

ښېګړه او نېکي مطلب د نورو خلقو په کار راتلل او دا د پښتنو د معاشرې لویه خوبي ده او ټول پښتانه دا جذبه لري او کړي. ښېګړه او نېکي د پښتنو ډیر زوړ خصلت دی او نن صبا جدید دنیا هم د پښتنو دا صفت خپل کړی دی. پښتانه همېشه بغیر د څه مطلب نه، تفریق نه او قومیت نه ښېګړه او نېکي کړې ده او کوي او خاص کر هغه که ښځې، ماشومان یا لوړ امکان وي بیا خو پکښې

Babar Paper Product

Scanned with CamScanner

M T W T F S DATE:

هیڅ شک نشته ځکه پښتانه د ښځو، ماشومانو او لویانو ډېر عزت کوي او خیال یې ساتي۔

## ۳- توره او میړانه:

توره او میړانه وائي بهادري او غیرت ښکاره کولو ته خاص کر په جنګ کښې۔ توري او میړانې په قامي، دیني او تاریخي مقصدلو کښې ډېر اهمیت لري دي۔ ځکه پښتانه یو ډېر بهادر قوم دے۔ د دوي په خوي خصلت کښې بهادري شامل ده۔ خاص کر پښتانو په جنګ کښې بهادري ښکاره کړې ده او ښځه په نره یې جنګونه کړي دي۔ خو هغه که د غیرت، ناموس، پښتو، دوطن یا د اسلام دپاره جنګ وي۔

## ۴- ننګ او غیرت:

پښتون د ننګیالي او غیرتي په قوم یاد شوي دے ځکه پښتون په خپل عزت، د خپلې ښځې په عزت، د خپل کور په عزت، د خپل وطن، مذهب، دین، او تر دې پورې د خپل ساتلي څناور د حفاظت دپاره همېشه قرباني ورکولو ته تیار وي۔ او داسې قسم پښتون ته ننګیالي یا غیرتي پښتون وائي۔ د ننګ او غیرت باره کښې د خوشحال بابا شعر دي:

د افغان په ننګ مې اوتړله توره
ننګیالي د زماني خوشحال خټک یم

خوشحال بابا وائي چې د پښتنو په بهادرۍ مې توره اوتړله او زه غیرتي خوشحال خټک یم۔

Babar Paper Product

Scanned with CamScanner

## ۵- رښتیا ویل:

رښتیا ویل د پښتون د خوي
خصلت یو اهم جز دی۔ اسلام او زموږ خوږ پیغمبر محمد
رسول الله صلی الله علیه وسلم هم مسلمانانو ته د رښتیا ویلو حکم
کړی دی، خو دا صفت په پښتنو کښې د اسلام د راتلو نه مخکښې
موجود وو۔ پښتنو کښې دا صفت د پښتنو د جرګې نه راغلی دی
او هغه داسې چې کله د پښتنو جرګه کیږي نو دوی ټول په یو
ګول دائره یا د اسکې په شکل کښې کیني. د دې فائده دا وي
چې ټول یو بل ته مخامخ کوري او څوک دروغ ویلی نشي۔ دې نه
علاوه د پښتنو ننګ او غیرت هم پښتنو ته د دروغو اجازت نه
ورکوي، ځکه پښتانه د پښتنو نام ... دے۔

## ۶- زړه ورتیا:

زړه ورتیا د پښتنولۍ اهم حصه ده۔
ځکه پښتانه بې غیرته خلقو ته د بد ګوري او غني خان هم وائي:

که ګوره لې چې په سینه خوږلی نه وي
مړی ما پسې په کوم مخ به نه ژاړي

ځکه پښتانه داسې خلقو سره تعلق هم نه ساتي، بعضې پښتانه
خو تر د کم عقل تورې د حده پورې زړه ور وي ځکه وایي چې
سنځی او زړه ور سړي او ښیار نشي کیدای. او پښتانه زړه ور
قوم دے۔

## ۷- انصاف:

انصاف د پښتنو مشهور صفت دے او چې
څوک انصاف نه کړي هغه د پښتنولۍ د معیار نه غورځیږي

د پښتنو په چاپېریال کښې چې څوک انصاف نه کوي، جرګه
دغه له سزا امکاني ورکوي او ټول کلي ورپسې داپاسي او کور
ورله سوزوي او د کلي نه یې اوباسي. ځکه پښتانه د انصاف دپاره
مشهور دي، او بغیر د څه تفریق او سفارش نه د پښتنو جرګې په
انصاف فیصلې کوي.

## ۸- سخاوت:

پښتانه سړي په سخي هم وي او غیرتي هم
که دا دوه خبرې پکښې نه وي دغه پښتون نه وي او د پښتنو مشري
هم نشي کولي. د دې فلسفه دا ده کو چرې غم ښادي وي یا
جرګه وي یا د چا غم ښو مدد کول وي نو که د پښتنو مشر سخي
نه وي نو دغه په هیڅ شانته چلي، مېلمانه په خندا پالي یا د
غم ښانو مدد په بیا څه اوکي. ځکه د پښتنو مشر په سخي هم وي.

## ۹- شرم او حیا:

شرم او حیا هم د پښتونولۍ اهم
جز دی. پښتانه په خپله هم حیاناک دي او حیا وال خلک
خوښوي هم او د بې حیا او بې شرمو نه نفرت کوي. او دا
د اسلام هم وېناده ده. دې وجې نه شرم او حیا ډېره ضروري ده.
پښتانه په خاص خاص موقو باندې په خاص خاص ځایانو کښې
خاص خاص عادات ساتي. لکه د حجرې خپل آداب دي د مسجد خپل
آداب نو دغه شرم او حیا د پښتنو په ټول ژوند کښې خوره ده.

M T W T F S DATE:

## ۱۰- امانت:

د امانت حفاظت کول دا د پښتنو خاصه ده۔ پښتانه په امانت کښې چرې هم خیانت نه کوي۔ د امانت اندازه مونږ ته د عجب خان او شهزاده خان چې کومه پېښه نکلي شوې راوستې وه، په دې واقعه کښې هم کېږي۔ کله چې جنرل ابلس د دې کور نه بغیر اجازته ورغلي وه، د دې بدل کښې دې د جنرل ابلس کیمپ ته ورننه شوي وو او د ابلس په خطا کښې د هغه ښځه راوستې وه۔ خو چونکه دې غلطي کښې راوستې وه او لو امانت وه نو بیا یې ورته هغه واپس لوتلې وه۔ نو هغې د دې امانت حفاظت کړي وه۔

## ۱۱- صلاح مشوره:

صلاح مشوره پښتانه ضروري گڼي، هغه که خپل مینځ کښې وي یا د مشرانو سره وي۔ د پښتنو جرگه هم د صلاح مشورې لوحصه ده۔ ځکه جرگه کښې مشران راټول شي او د لو مسلې حلولو دپاره صلاح مشوره اوکي۔ او صلاح مشوره کول د جمهوري خلقو کار دے۔

## 2. دود دستور:

دود دستور د پښتنو لوی دویمه ضروري برخه ده۔ او ده دي مطلب دي قانون او آئین، چې کله په پښتنو کښې څه مسلې راشي نو د هغې د حل کولو به څه طریقه وي هغه ټول دود دستور کښې راځي۔ په دې کښې مونږ سره شامل دي، جرگه، ننواتې، تیره، روغه جوړه،



Scanned with CamScanner

M T W T F S

DATE:

پښتونولي، ننګ، ورورولي، د پښتو دودونه او عزت.

## ۱- جرګه:

هر کله چې په پښتون قام کښې چا ته څه مسئله پېښه شي یا څوک جنګ جګړه وکړي نو د هغې د حل کولو دپاره د مشرانو لویه غونډه کېږي، دې غونډې ته جرګه وائي. جرګه مونږ په دریوو برخو کښې وېشو:

### الف: مرکه:

مرکې نه مراد تیاره تحصیل دے. او په دې کښې دوه، درې کسان لاړ شي او د مسئلې باره کښې معلومات حاصل کړي څه ته انګلش کښې انوسټيګیشن وائي، او بیا د معلومات جرګې ته اوړاندې کړي.

### ب: جرګه:

جرګې نه مراد عدالت کوم چې فیصله کوي. په جرګه کښې مشران په ګول دائره کښې ناست وي. راونډ ټیبل کانفرنس او جمهوري نظام دنیا ته جرګې ورکړې دي.

### ج: لویه جرګه:

لویه جرګه پارلیمنټ ته وئیلې کېږي. نن صبا وخت کښې د دې غټ مثال لویه جرګه دے، او د لویې تصور هم د پښتنو د لوې جرګې نه راوتې دے.

## ۲- ننواتې:

ننواتې د پښتونولۍ لوی اهم جز دے. کله چې یو فریق د بل فریق سره ظلم وکړي یا قتل پکښې

Babar Paper Product

Scanned with CamScanner

او کمېږي، او دې ظالم فریق ته احساس وشي چې ما ظلم کړی
دی، نو د ظالم فریق د مظلوم کور ته ځي او د هغې معافي
غواړي. دې ته نناواتې وائي. دې داسې انداز سره ځي
چې ماشومان ملګري وي (ځکه ماشومان ښائسته وي او خوګ
ورته څوک نه وائي)، بیا ورپسې ښځې روانې وي او په سر يې
قرآن مجيد ونه ايښي وي، بيا سم ږي وي او بيا غلګان
وي سره د ساړوو. د پښتو دا دستور دی چې د ظالم بيا خامخا
معاف کوي. هغه د سيال صيب يو شعر دی:

سیاله دا د پښتنو څومره ساده رواج دی
چې د خپل در نه د خپل سر قاتل شرمے نشي

## ۳- تیږه:

کله چې د دوه فریقو یو بل سره څه بدي روانه
وي، نو دې مینځ کښې مشران راشي او د هغه دواړه فريقو
مینځ کښې یو ساتنه یا تیږه دي او هغې ته اووائي چې تاسو
به اوس یو بل ته څه نه وائے. مشران د فیصلې دپاره یو وخت
مقرر کښې چې په هغه وخت کښې به موتیږه ستاسو مسئله
حل کوؤ. او دې دوران کښې یو غټه جرمانه مقرر کښې. کو
چا دا تیږې خلاف ورزي وکړه هغه به بیا دا غټه جرمانه
ورکوي. دې دستور ته تیږه وائي او دنیا ورته سیز فائر
وائي.

## ۴- روغه جوړه:

روغه جوړه هم د امن دپاره یو کوشش دی.



Scanned with CamScanner

کله چې د دوه کسانو یا خاندانو یا فرقو په مینځ کښې ورانه وي نو مشران را ټول شي او دې په مینځ کښې د روغې کوشش کړي ـ کله نه کله یکښې څه شرطونه هم کیښودل شي او جوړه اوشي ـ هم پښتون دا غواړي چې روغه جوړه دې اوشي.

## ۵- پناه ورکول:

پناه ورکول د پښتنو لوی ډېر ښه سلوک دے. کوم چرې یو کس د خپل دښمن نه راتښتېدو او پښتون کره لاړ شي، خواه که هغه د دې پښتون دښمن ولې نه وي، پښتون به هغه له پناه ورکوي ـ او د دې پښتون بیا دا ذمې واري وي چې داکس به خپل کور ته صحیح سلامت رسوي او که دې کښې ناکامه شو بیا ورسره پښتانه ښه سلوک نه کوي.

## ۶- ننګ ور ومل:

ننګ ور ومل داسې چې که څوک مظلوم دے او هغه ته د مدد ضرورت دے ـ او څوک پښتون لاړ شي، هغه ته حوصله ورکړي چې ناسره یم او ناسره والاړ یم دے نه ننګ ور ومل وائي ـ یا که څوک مظلوم د خپل قبیلې سره ورشي د مدد د پاره، او هغه سره بیا هغه سره اودرېږي نو دې ته ننګ ور ومل وائي.

Babar Paper Product

Scanned with CamScanner

## ۷- د ښځو درناوی:

پښتانه د ښځو ډېر زیات عزت و احترام کوي. پښتون معاشره چې ښځې له کوم عزت ورکوي دے دا د دنیا بل قوم نه دے ورکړي. ځکه چې پښتنې ښځې دا روانې وې او سړي تګ وي لاسرې بل خوا مخ کېږي او ښځې تېرې شي، د عزت دپاره سړي د ښځو مخکښې ډېر [illegible]ے خبرے هم نه کوي. او پښتون چې ځکه قسم خوري یا په خدائے خوري او یا په ښځه. دے نه هم پته لګي چې پښتانه د ښځو څومره عزت کوي.

## ۸- غزا:

غزا مطلب مقدس جنګ دے. دا دے تعلیم خو اسلام هم ورکوي لو د پښتنو د سلو هم دے. دې کښې د خپلے خاورې، د خپل عزت، د خپل وطن، د مذهب او د ننګ او غیرت په دین پالنې دې دپاره جنګ کول شامل دي. پښتنو لږ ډېر ښه جنګیالي دے او په جنګ کښې همېشه بهادري ښکاره کوي.

## 3. لاري چاري:

لاري چاري د پښتنو لوی رسم دریمه برخه ده. مطلب چې د پښتون په لوړو خلقو سره څنګه د ژوند معاملات تېروي. په دې کښې جرګه، بدرګه، بدل، برامته او بوټه، دامه، ناغه، بلنډه، چیغه، برغمل، ملاتړ، پېغور، کونډلوڼ، اشر، لوټه.

Babar Paper Product

Scanned with CamScanner

میلمستیا، د مشر منل، د مشر خوښول، اختره
خپلوي، پېغور، د اولاد روزنه، خوراک پوښاک، ګاونډي
لوبې، د غمي خوشالي، اتڼ، د رنځور پوښتنه، اوس
ننواتې، ادپره، میراث، شانه دار، او په خور، دادای ننګ،
سزا، د زنا سزا، ننګ غلور وغیره شامل دي.

## ۱- حجره :

حجره د پښتنو هغه داسي ځائ دے چې د
دنیا بل هو قوم سره نشته، د حجرې ډېرې زیاتې فائدې
دي. حجره د غم خوشالۍ، د مشورې، د سماجي کارونو
د مونږه د پارګنګ دپاره، د لوبو، د جرګو مرکو او داسي د
کمن شمیر کارونو ځائ دے. دا دي نه پته لګي چې پښتانه
قوم او بنیادان وو. په حجره کښې د کلي ټول خلق ناست وي
کو خان دي او کو غریب. غني خپل صیب وائي:

په حجره کښې فرق د خان او لوګم نشته
عمر مسیح د مسیح اور دے په حجره کښې

په حجره کښې عمر سري خپله خبره کولے شي، او په چا هیڅ پابندي
نه وي.

## ۲- بدرګه :

کله چې پښتنو کره میلمه راشي او بیا
واپس ځي نو پښتانه ورسره د خپل کور کلي حدودو پورې
ځي د هغه د حفاظت دپاره دي ته بدرګه وائي. او که
دې دوران میلمه ته څه نقصان اورسیږو نو دوی به په هغه
نقصان پوره کوي. نن صبا د دنیا بدرګي ته پوره ټولو

M T W T F S DATE:

وائي. خوشحال بابا هم په خپله شاعرۍ کښې د بدرګې لوړې
استعمال کړې دے :

بدرګه که محبت را سره نه وے
يک تنها به په خونښخوارو لارو تلل څوک

## ۳- بدل:

کله چې يو سړے راپاڅي او بل سړے هم
کړي نو د مړي واله خاندان به بدل اخلي، ځکه نه چې
په اسلام کښې قصاص وئيلې شي. پښتنو معاشره کښې بدل
ډير عام دے او پښتانه خامخا بدل اخلي خو معاف کول هم
پښتانه يو ښه عمل ګڼړي.

## ۴- داړه:

داړه د پښتنو د جنګ يو طريقه وه، ځکه نه
چې دنيا ګوريلا جنګ وائي. د داړې مطلب دې په يو وخت
باندې د مختلفو طريقو او مختلفو طرفونو نه حمله کول، دې وجې
نه په دښمن اوږير پړوي. کله چې به دښمنان زيات وو نو پښتنو
به دا طريقه کوله.

## ۵- چغه:

چغه يو داسې دستور دې چې پښتانه ټول
په شريکه يا په جمع يو قومي کار له راوځي. مثلاً سيلاب
راشي، اور اولګي، د کلي واله ګټل وي يا څه داسې کار دے
چې د ټولو په شريکه دے، نو هغې دپاره آواز کيږي

Babar Paper Product

Scanned with CamScanner

چې ورته چغه وټیلي کیږي .

## ۶- ملا تړم :

ملا تړم مطلب ملا تړل یعنې لو کار له په مټ رکه رالو لېږدل . آسان الفاظو کښې د دې مطلب دے اتفاق واتحاد . پښتانه ملاتړم د لو اهم کار د پاره هم کوي او د طاقتور دښمن خلاف هم .

## ۷- پېغور :

پېغور د پښتنو لو ډېر خطرناک څیز دے . پېغور دے ته وائي چې کله لو کس بل کس ته د بعضو باره کښې یا د بعضو د خاندان باره کښې داسې لو خبره وکي چې د دې کمزورۍ پاتې شوي وي . کله چې څوک چا له اووائي چې د خپل پلار تپوس دے وکه یا خپل تپوس وکړه . پېغور د وجې نه ډېر مرګي او جنګ جګړې هم شوي دي . د اباسین صیب د شعر لوه مصرعه دا ده :

— پېغور دے د پښتو په ډیوالونو لیکلي دیوال

## ۹- اشر :

اشر د پښتنو قام د اتفاق نښه ده . نن صبا چې دنیا کښې د این جی او کوم نظام دے ، د دې تصور د اشر نه راوتي دے . هر کله چې لو سړے سبا کار کول غواړي بعضه لوئل خلق راټول کړي ، خپل خپلوان ، دوستان ، مشران او لوئل په لوزائے د خپل کیګړي کار وکي دے

ته اشر وائي.

## ۱۰- میلمستیا:

میلمستیا د پښتنو او د اسلام یو شریکه صفت دی. خو د پښتون قام ټک ډېر او خاص صفت دی. پښتانه کوم چې کله میلمه راشي، نو د میلمه د خوراک پوښاک، د خدمت او د شپې د پاره بندوبست کول دا ټول په میلمستیا کښې راځي.

## ۱۱- سوره:

سوره پښتنو کښې د سزا یو قسم دی. کله چې یو کس ظلم وکړي عموماً قتل، نو د ظالم لور، خور یا د ده د کور ځینې یې مظلومانو کره واده کوله، دا د ښځه پښتو وخت حساب سره یو بد رسم یو، ځکه چې دا رشته به اوسته بیا به دښمني په رشته داری بدله شوه او لور هرګوره به نه کیدل، خو نقصان یې دا وه چې ځینې به دې یې اس سوره کېږه او ځوک به ورسره نه تلل مطلب خوشحالي به لږه کښې. نن صبا وخت ځکه بنده ده چې نن صبا لور ډېر آپشن شته دی.

## ۳- پایلې:

د ټولو خبرو مغز دا دی چې پښتونولي د پښتنو د ژوند تېرولو طریقه کوم کښې چې د پیدائش نه واخله تر مرګ پورې او بیا د مرګ نه بعد هم ښځه ټولې طریقې شامل دي. آخر کښې دا او وایم چې پښتانه او پښتونولي د یو بل لازم ملزوم دي.

Babar Paper Product

Scanned with CamScanner